د طبيعي علومو ملي سمپوزيم

شيـــــخ زايد پوهـــــــنتون
خـــوست افغانستان

د سمپوزيم په اړه

د طبيعي علومو ملي سمپوزيم د خوست په شيخ زايد پوهنتون کې جوړيږي. ياد سمپوزيم د طبيعي علومو په برخه کې د متخصصينو لپاره يو پليټ فارم چمتو کوي ترڅو د ساينسي او تخنيکي معلوماتو تبادله او د اوسني ټيکنالوژۍ حالت ته وده ورکړي. په نوموړي سمپوزيم کې به د افغانستان دولتي او خصوصي پوهنتونونو څخه استادان او څيړونکي ګډون کوي.

ماموريت

دسمپوزيم موخه څيړنو اوعلمي نشراتو ته انکشاف او وده ورکول دي. زموږ اصلي موخه د پوهانو، څيړونکو او د طبيعي علومو سره علاقه لرونکو متخصصينو ترمنځ د اړيکو او پرانيستې خبرو اترو لپاره اسانتيا برابرول دي. په نوموړي سمپورزيم کې به څيړونکو ته د نظرياتو د تبادلې فرصت برابرشي او د خپلو ساينسي څيړنو پايلې به وړاندې کړي. ياد سمپوزيم به ګډونوالو ته فرصت ورکړي تر څو د نورو څيړونکو سره اړيکې پيدا کړي اوبلاخيره په افغانستان کې څيړنې دود او وده ورکړل شي.

لرليد

زموږ ليد د څيړنې دخپرولو يو ساينسي چينل تنظيم کول دي چې له لارې يې علمي پوهه او تعامل ته باور ورکړای شي. زموږ موخه دا ده چې د افغانستان له بېلا بېلو پوهنتونونو څخه په انډوليز ډول د مختلفو څيړونکو په يوځای کولو سره ساينس او ټکنالوژی ته پراختيا ورکړو.

ځانګړي پروګرامونه

په سمپوزيم کې اړونده مقالې د طبيعي علومو لاندې برخو ته شاملېږي

- انجينري
- کرنه
- کيميا او بيولوژي
- رياضی، فزيک، کمپيوټر. ساينس
- طب، وترنري

د مقالو د سپارلو وروستۍ نيټه: 1401/9/24 (15th Dec 2022

ټول وړاندې کونکي(څيړونکي) اړ دي چې د سمپوزيم په پروسه کې د شامليدو لپاره د ترتيب شوي لارښود (ټيمپليټ) سره سم ۴-۲مخونو پورې مقاله ترتيب اوسمپوزيم اړوند ادرس ته يې واستوي. د مقالې ورډ فايل دې د اړوند کس اوپروګرام په نوم ونومول شي او زموږ سره دې تر ټاکلي مودې شريک کړي.

دمقالې نشرول

د استادانو مقالې چې په سمپوزيم کې دچاپ خپراوي او وړاندې کولو لپاره منل کيږي، د طبيعي علومو د ملي سمپوزيم دمقالوټولګه (National Symposium of Natural Science Proceeding Book) په نامه چاپ او خپريږي. کومې مقالې چې د شيخ زايد پوهنتون په نړيوال ژورنال (Afghanistan Research Studies) کې د نشريدو وړ وي ددوي په علمي ترفيعاتوکې د يوې نړيوالې مقالې پرځای او پاتې مقالې چې يوازې د مقالو په ټولګه کې چاپ کيږي د يوعلمي فرعي اثرحسابيږي.

szunashrat@gmail.com
+93(0) 774 792 448